# مسیر

ورځپانه

www.maseerdaily.af

نوی لید، نوی مزل

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر شپږمه | ٦٤۰مه ګڼه


# د ملي مصالحې عالي شورا لومړنۍ ناسته؛

## ولسمشر غني: موږ د مذاکراتو لپاره جدي یو، طالبان دې هم اوربند ته تیار شي



۳

د مصالحې عالي شورا یو مثبت ګام او خو اندېښنې ۲ مخ

د افغانستان- ایران اړیکې او د «اوبو سیاست» ۲ مخ

استرالیا باید په افغانستان کې د خپلو عسکرو د جنایت په اړه څه وکړي؟ ۳ مخ

## پوهنتون


۴ مخ

### ترکستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د طب پوهنځي بیا فعالول، د نویو پوهنځیو ایجادول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول او د ماسټرۍ پروګرام پیلول د ترکستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې راتلونکي پلانونه دي.




### چارواکي: په خوست کې د ۹۲ میلیون افغانیو په لګښت د اوبو ذخیروي بندونه جوړېږي



د خوست سیمه ییز چارواکي وایي، چې په دغه ولایت کې د ۹۲ میلیونو افغانیو په لګښت د اوبو د نهو ذخیروي بندونو د جوړولو چارې پیل شوې.

د اوبو دغه ذخیروي بندونه د خوست په مرکز، تڼیو ولسوالۍ، اسماعیل خېل، مندوزي، ګربز، ځاځي میدان او باک ولسوالیو کې جوړېږي چې اساسي موخه یې د سېلابونو د سرعت کموالی او تر ځمکې لاندې اوبو زېرمه کول دي.

ولایتي چارواکي وایي، دغه ذخیروي بندونه د اوبو د تنظیم ملي اداري له خوا جوړېږي چې چارې به یې په راتلونکو اتو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د خوست والي تورن جنرال مهمند کټوازي د دغو بندونو د کار پیل پر مهال ویلي چې یاد نهه واړه ذخیروي بندونه به د ۷۱٦۵۰۰ متره مکعب اوبو ذخیره کولو ظرفیت ولري. نوموړي زیاته کړې چې د یادو بندونو پر جوړولو شاوخوا ۹۲ میلیونه افغانۍ لګښت راځي.

### امریکایي قانون جوړوونکي: ټرمپ په افغانستان کې د سرتېرو شمېر تر څلورو زرو نه شي کمولی

وروسته له هغې چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په بېړه له افغانستان څخه د ټولو سرتېرو د وتلو پرېکړه وکړه، امریکایي سناتوران په دې هڅه کې دي چې له دغه هېواده په بېړه د ځواکونو د ایستلو مخنیوی وکړي. د ۲۰۲۱ میلادي کال لپاره د امریکا د استازو او سنا جرګې د واک ورکولو په قانون کې راغلي، چې ولسمشر نه شي کولی په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو شمېر تر څلور زرو کم کړي.

په یاده لایحه کې دغه راز راغلي چې ټرمپ دې د افغانستان وضعیت ته په کتو د سرتېرو ایستل تنظیم کړي. د لایحې په یوه برخه کې راغلي، که د امریکا ولسمشر دغه پرېکړه رد کړي، نو کانګرېس دا صلاحیت لري چې ورته پرېکړه لغوه کړي.

په ورته مهال امریکایي شنونکي بیا وایي چې د قانون جوړوونکو وروستۍ پرېکړه نوي ټاکل شوي ولسمشر جو بایډن ته هم قوي پیغام ورکوي څو د افغانستان له مسائلو سره بشپړ مسوولانه چلن وکړي.

د یادونې وړ ده چې روان میلادي کال امریکا له طالبانو سره په دوحه د سولې هوکړه لاسلیک کړه او د دې هوکړې یو مهم شرط دا دی چې تر ۲۰۲۱ ز کال پورې به ټول امریکایي ځواکونه له افغانستانه وځي.

### طالبان: د هوکړې پر خلاف د امریکایي ځواکونو هوایي بریدونه به وضعیت نور هم ترینګلی کړي



۲ مخ


### نادري: نشست‌ها میان کمیتهٔ مشترک هیئت‌های مذاکره کنندهٔ ادامه خواهد یافت



پس از توافق روی کارشیوهٔ صلح، کمیته‌های کاری هیئت‌های مذاکره کنندهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و طالبان در دوحه دیروز نخستین نشست خودرا برگزار کردند.

نادر نادری، عضو هیئت مذاکره کنندهٔ جمهوری اسلامی افغانستان می گوید که در این نشست دربارهٔ ترتیب آجندای مذاکرات صلح گفت‌وگو شد. به گفتهٔ او قرار است این کمیتهٔ مشترک امروز نیز نشستی داشته باشد. در همین حال، محمد نعیم، سخن گوی هیئت طالبان نیز تویت مشابهی گفته‌است که نشست‌ها میان کمیتهٔ مشترک ادامه خواهد یافت. همزمان با این، مایک پمپیو، وزیر خارجه امریکا با نگرانی از بلند بودن میزان خشونت‌ها در افغانستان از دو طرف می‌خواهد تا برای رسیدن به یک آتش‌بس کار کنند. پمپیو می‌افزاید: «من برای آنان روشن ساختم که سطح کنونی خشونت‌ها همزمان با ادامهٔ مذاکرات نباید ادامه یابد. این کار نخواهد بود. پس امیدوارم که بتوانیم به پرداختن به برخی از مسائل مربوط به آتش‌بس، پیش از این که بسیار دیر شود آغاز کنیم.»

درهمین حال، قطر به پیشرفت‌های بیشتر در روند صلح افغانستان خوشبین است. شیخ محمد بن عبدالرحمن آل ثانی، وزیر خارجه قطر می گوید که امیدوار است که تا پایان سال جاری میلادی – کمتر از یک ماه دیگر – مذاکرات دوحه پیشرفت‌هایی داشته باشد. او در این باره اظهار داشت: «امیدواریم که تا پایان سال جاری پیشرفت‌هایی داشته باشیم. و ما همچنین امیدواریم که ۲۰۲۱باید سال خوبی برای افغانستان باشد که صلح و ثبات را به ارمغان بیاورد.

## سرلیکنه

# د مصالحې عالي شورا یو مثبت ګام او څو اندېښنې

د مصالحې عالي شورا د رهبرۍ لومړنۍ غونډه پرون وشوه چې پکې د سولې د روانې پروسې په تړاو پر ګډ دریځ، اجماع او ملاتړ ټینګار وشو. په دې غونډه کې هغو سیاسي مشرانو برخه اخیستې وه چې په تېرو ۱۹ کلونو کې حکومتي چارواکي وو. غونډې ته د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار او د جمعیت مشر صلاح الدین رباني نه وو ورغلي. دغه راز د رحمت الله نبیل په ګډون غونډې ته د ځلورو سیاستوالو د ورتګ مخنیوی هم شوی و. تاکل شوې چې د مصالحې عالي شورا تشکیل او اړوندې کمېټې یې هم ژر بشپړې شي.

د مصالحې د عالي شورا جوړېدل د سولې په پروسه کې له څو اړخونو مهم ګام ګڼل کېږي: لومړی دا چې په دې سره به په کابل کې د سولې په تړاو د ټولو اړخونو غږونه اورېدل کېږي. دویم دا چې د سولې په تړاو تصمیمونه به د یوه شخص او یوې کړۍ له انحصاره ووځي. دریېم دا چې په دې سره سولې ته د تمایل او ارادې یو ښکاره پیغام ورکړل شو. څلورم دا چې په دې سره د اشرف غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ شوی سیاسي توافق هم عملي کېږي. د دې شورا جوړېدل به ګڼې نورې ګټې هم ولري.

خو د دې تر څنګ په دې تړاو څو اساسي اندېښنې هم شته چې که ورته پام ونه شي او سمه حللاره ورته پیدا نه شي، نو ستونزې هم زېږوي:

لومړی: دا شورا باید صلاحیت او واک ولري. د سولې په تړاو ټول تصمیمونه باید په همدې شورا کې له بحث او مشورو وروسته ونیول شي. دلته نیول کېدونکي تصمیمونه باید وروستي وي. که دې شورا ته د سولې د عالي شورا په شان کتل کېږي، چې غړي به یې یوازې معاشونه اخلي او سمبولیک کارونه به کوي، نو بیا نه یوازې دا چې ګټه نه کوي، بلکې زیان هم کوي او د سولې په پروسه کې به پر یو خنډ بدله شي. له همدې امله ولسمشر باید د دې شورا نظریاتو او پرېکړو ته درناوی وکړي او د سولې په تړاو هر تصمیم او ګام باید له همدې شورا تېر شي.

دویم: دا شورا لا هم نیمګړې ده؛ ځکه له یوه اړخه پکې ځینې مهم سیاسي مشران نشته او د ولسمشر د شخصي تمایل او سلیقې له مخې ترې ایستل شوي او له بله اړخه پکې له ځینو اړخونو ډېر او بې ضرورته کسان ځای پر ځای شوي دي. د مصالحې شورا باید ملي او هر اړخیزه وي. که دا شورا د اشرف غني د سلیقې او ذوق پر اساس جوړېږي، نو په طبیعي ډول به ملي او جامع نه وي. د ملي او جامع شورا لپاره پکار ده چې اوس شخصي ستونزې، سیاسي اختلافات او عقدې څنګ ته شي.

دریېم: شورا باید واحد غږ ولري. په شورا کې سر له اوسه اختلاف شته او ښکاري چې په سختۍ به پر مسایلو توافق کوي. دا سمه ده چې د نظر اختلاف شته، خو په شورا کې باید واحد نظر پیدا شي. ټول نظریات باید واورېدل شي، بحث پرې وشي، خو په پای کې باید واحد نظر پیدا شي. که شورا واحد نظر ونه لري، نو نه یوازې له سولې سره به مرسته ونه کړي، بلکې خپله به پر خنډ واوړي.

پکار ده چې د مصالحې عالي شورا همدغو اندېښنو ته په پام سره بشپړه شي، کار پیل کړي او د سولې د روانې پروسې له بریالیتوب سره مرسته وکړي.

# د افغانستان- ایران اړیکې او د «اوبو سیاست»

حکمت الله ځلاند

**وروستۍ برخه:**

**له ایران سره د اوبو د شخړې هواری**

که څه هم افغان لوری له ایران سره د اوبو مسئله حل شوې بولي او د دواړو هېوادونو تر منځ د اوبو د تړون پر پلي کېدو ټینګار لري او له همدې کبله افغان حکومت په دې تړاو ډېر کم ګامونه هم اوچت کړي؛ خو دا چې له یوې خوا دواړو لورو د دغه تړون د پلي کېدو او په ځانګړې توګه ایران ته د بهېدونکو اوبو د دقیقې کچې معلوملو او معلوماتو تبادله کولو په برخه کې اغېزناک ګامونه نه دي اخیستي او دواړو لورو په تورونو او ادعاوو اکتفا کړې او له بلې خوا ایران د اوبو د مسئلې له کبله له بېلابېلو لارو پر افغانستان فشارونه هم راوړي، له همدې کبله دا مسئله د خبرو اترو او عملي ګامونو له لارې هوارولو ته اړتیا لري. دواړه هېوادونه د تېر په څېر اوسني اختلافات هم د خبرو اترو له لارې هوارولی شي؛ خو د دواړو هېوادونو دښمني بیا نه یوازې دواړو هېوادونو ته، بلکې د سیمې په کچه ګواښ بلل کېږي. د ۱۹۷۳ کال په تړون کې د اختلاف پر مهال د ستونزو د هواري لارې چارې هم ښودل شوې دي او باید اړوند اختلافات له تړون سره سم، له سوله‌ییزو او دوستانه لارو حل شي. دا چې د ایران- افغانستان د اوبو تړون یو معتبر سند دی، له همدې کبله د تړون د پلي کېدو لپاره د هلو ځلو پر ځای سیاسي فشارونه د اوبو د نړیوالو قوانینو خلاف بلل کېږي.

په ۱۹۹۴ کال کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال او د سختې وچکالۍ له کبله د کجکي بند له بشپړ ترلو سره د لنډ وخت لپاره په ایران اوبه وترل شوې؛ خو اوس افغان لوری ټینګار کوي چې نه یوازې دا چې د اوبو له تړونه یې سرغړونه نه ده کړې، بلکې په تېرو کلونو کې ایران ته له خپل حق زیاتې اوبه ورکړل شوې دي. افغان لوري چمتووالی ښودلی، چې د متخصصینو یو کمېسیون په دې اړه څېړنه وکړي؛ خو عملي ګامونه یې نه دي پورته شوي. په ایراني اړخ کې بیا د بېلګې په توګه له ترکمنستان سره په ۲۰۰۵ کال کې د افغانستان له مشورې پرته ګډ بند جوړول او ډېرې نورې پرژې له دغه تړونه او د ۱۹۹۲ کال کنوانسیون له موادو سرغړونه بلل کېږي. له بلې خوا د تړون د روښانتیا په اړه د اوبو او انرژۍ وزارت نظر دا دی، چې ایران باید د هلمند سیند له دریو نقطو څخه اوبه واخلي؛ خو ایران اوس د دغه سیند له ۱۳ ځایونو اوبه اخلي او سیند یې ټوټې کړی دی. د دغو ټولو نهرونو ظرفیت ۱۵۰ متر مکعب په هره ثانیه کې تخمینېږي.

له ایران سره د اوبو د مسئلې ځینې افغان څېړونکي بیا د ایران دا هڅې د زیاتو اوبو تر لاسه کولو لپاره بولي. دوکتور فاروق اعظم په دې اند دی، چې ایران په پخواني تړون کې افغانستان ته ویلي وو، چې چمتو دی اضافي اوبه له افغانستان څخه په بیه واخلي، کومې چې د مدیریت د نشتون له کبله اوس وړیا ورځي. د ده په نظر، ایران ځکه هڅه کوي چې په دغه تړون بیا کتنه وشي، څو په افغانستان کې له خپل اغېز څخه په ګټې اخیستنې سره په نوي تړون کې له ۲۶ متر مکعب څخه زیاتې اوبه خپلې کړي، په داسې حال کې چې د اوبو کچه اوسمهال کمه شوې هم ده او وچکالۍ کال په کال مخ په زیاتېدو دي.

له همدې کبله افغان لوری په ایران پړه اچوي، چې ایران د ستونزې د هواري لپاره د تړون د پلي کېدو په اړه د خبرو اترو پر ځای ګواښونو او د پردې تر شا فعالیتونو ته لومړیتوب ورکوي او هڅه کوي چې له دې لارې افغانستان تر فشار لاندې ونیسي او د تېر په څېر له خپل حق زیاتې اوبه تر لاسه کړي. ایران د ناامنیو، دوه تر درې میلیونه افغان کډوالو او ترانزیټي او اقتصادي قضیاوو له لارې پر افغانستان فشار راوړي؛ کوم څه چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف په خپله وروستۍ مرکه کې اعتراف هم پرې وکړ. په دې توګه که څه هم ایران ظاهراً د تړون پر پلي کېدو ټینګار لري او افغان لوری هم همدا غواړي او په تېره ولسمشر غني څو ځله ټینګار کړی، چې له ایران سره د اوبو د ستونزې هواری د تړون عملي کېدل دي؛ خو په دې تړاو د دواړو لورو لخوا عملي ګامونه نه دي اوچت شوي.

که دواړه هېوادونه د هلمند اوبو د اوسنیو اختلافاتو هواری وغواړي، دا به ډېر ساده او اسانه وي؛ ځکه له دغه هېواد سره د اوبو د وېش هر اړخیز تړون موجود دی او د هر ډول وضعیت لپاره وړاندوینې لري. د هلمند سیند د اوبو د وېش تړون بله مهمه ګټه دا هم ده، چې د هریرود- مرغاب حوزې د اوبو په تړاو د دواړو هېوادونو توافق هم خورا اسانولی شي.

**پنځمه برخه؛ پایله**

د دې څېړنیزې مقالې موخه په ټولیز ډول له ایران سره د افغانستان د شریکو اوبو په اړه د شته ستونزو او اندېښنو څېړنه ده. دا چې په وروستیو دوو کلونو کې په ځانګړې توګه له ایران سره د ګډو اوبو قضیه یو ځل بیا جنجالي شوې، دلته مو هڅه کړې چې د ایران اندېښنې وڅېړو او دا چې د دوی اندېښنې څومره پر ځای دي او دغه راز پر دواړخیزو اړیکو یې څومره اغېزې کړې دي. که څه هم په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه هم د اوبو زیاتېدونکی اهمیت د پام وړ موضوع ده؛ خو له ایران سره د افغانستان د ګډو اوبو د قضیې له کبله د ګاونډیو هېوادونو اندېښنې او لاسوهنې، د هېواد په اقتصادي وضعیت او په تېره بیا په صنعت او کرنیز سکټور کې د اوبو ارزښتناک رول، د اوبو د کچې د ټیټوالي او له کبله یې د ښځنلو پاکو اوبو ته نه لاسرسی او داسې نور هغه موضوعات دي، چې په هېواد کې د ننه یې د اوبو اهمیت او مدیریت ته پام اړولی دی. خو له ایران سره د ګډو اوبو په برخه کې شته ستونزو د اوبو په سکټور کې د پراختیایي کارونو او نړیوالو پانګونو مخه ډب کړې ده.

افغانستان که څه هم په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې د اوبو د مدیریت په برخه کې ځینې لاسته راوړنې لرلې دي؛ خو لا هم په دې برخه جدي ستونزې او کمۍ شته. په دغو لاسته راوړنو کې د افغانستان د اوبو قانون نهایي کول (۱۳۸۸ لمریز کال)، د فرامرزي یا له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو د کمېسیون جوړول (۲۰۱٦ کال)، د فرامرزي اوبو د پالیسۍ مسودې وروستیو پړاوونو ته رسېدل، چې د افغان حکومت د سیاسي ارادې ښودنه کوي، له تاجکستان سره د اوبو د سرچینو د مدیریت او پراختیا په اړه د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۴ کلونو هوکړه‌لیکونه، له پاکستان سره د کونړ سیند د پراختیا لپاره د لارو چارو لټولو په اړه د ۲۰۱۳ کال هوکړه‌لیک او د سلما بند افتتاح یې مهم موارد دي.

د افغانستان د اوبو له پنځو حوزو څخه څلور یې له نورو هېوادونو سره ګډې حوزې دي، چې اوسمهال تر ټولو ډېرې ستونزې له ایران او بیا پاکستان سره د هلمند او کابل سیندونو په حوزو کې دي. له یوې خوا ایران د وروستیو وچکالیو له کبله د اوبو له کمښت سره مخ دی او له بلې خوا په افغانستان کې د اوبو د مدیریت او په ځانګړې توګه په هلمند او هریرود- مرغاب حوزو کې د اوبو د بندونو د جوړولو له قضیې په وېره کې دی او له کبله یې له بېلابېلو لارو پر افغانستان فشارونه واردوي. که څه هم د هلمند سیند د اوبو په تړاو له ایران سره تړون هم شته دی؛ خو د دغه سیند د اوبو د کچې او په تېره بیا ایران ته د بهېدونکو اوبو په اړه د کره او دقیقو معلوماتو نشتون د دې لامل شوی، چې ایران خپل بېلابېل فشارونه جاري وساتي.

له ایران سره په ۱۹۷۳ کال کې شوي تړون کې دغه هېواد ته د هلمند سیند له اوبو څخه په نورمالو کلونو کې په هره ثانیه کې ۲٦ متر مکعب اوبه (۲۲ متر مکعب د ایران سهم او ۴ متر مکعب د ښه ګاونډیتوب) منل شوې دي؛ خو په هېواد کې د اوږدو جګړو له کبله په تېرو کابو څلورو لسیزو کې د دغو اوبو د دقیقې کچې په اړه کره مواد نشته او په دې موده کې د اوبو اندازه کولو سیستمونه فعال نه وو. د هلمند د اوبو د اوسني وضعیت او له دغو اوبو څخه د دواړو هېوادونو د اوسني سهم په اړه د کره موادو او معلوماتو نشتون له ایران سره د ګډو اوبو مسئله ورځ تر بلې پېچلې کړې او جنجالي کړې ده. د کره موادو نشتون له کبله پر دغو اوبو د وچکالۍ د اغېزو په اړه هم دقیق معلومات نشته او په دې تړاو یې خبرې اترې له ماتې سره مخ کړې او دواړه لوري یې د تورونو لګولو په لوبه کې ښکېل کړي دي. دغه وضعیت پر دواړخیزو اړیکو خورا منفي اغېزې هم کړې دي.

له یوې خوا ایران په سیستان او بلوچستان ولایت کې د هامون د وچېدو له کبله له اقتصادي او چاپېریالي ستونزو لکه بې‌کارۍ، بې‌وزلۍ، کډوالۍ، قاچاق، ناامنۍ، ګرد او غبار او داسې نورو سره مخ دی. ان دغه سیمه د څښاک د پاکو اوبو له کمښت سره هم مخ ده. له بلې خوا ایران اندېښنه لري چې د هلمند سیند د اوبو کچه به نوره هم کمه شي او له همدې امله په افغانستان کې د بندونو د پروژو له کبله په وېره کې دی. خو د موضوع څېړنه ښیي چې د ایران اندېښنې ډېرې پر ځای نه دي. له یوې خوا د هامون د وچېدو لاملونه یوازې د هلمند سیند د اوبو کموالی هم نه دی، بلکې د وچکالیو تر څنګ د ایران لخوا د اوبو افراطي کارېدنه او د اوبو ناسم مدیریت یې هم مهم لامل دی. له بلې خوا ایران له افغانستان سره د اوبو تړون لري او دا چې اوسمهال د تړون د تطبیق لپاره د معلوماتو د تبادلې او صادقانه ګامونو اوچتولو پر ځای سیاسي فشارونو ته مخه کوي؛ افغان څېړونکي په دې اند دي، چې ایران له تړون څخه د زیاتو اوبو تر لاسه کولو په هڅه کې دی او وچکالۍ او اقلیمي بدلونونه هم په پام کې نه نیسي.

دا اندېښنې داسې مهال دي، چې په افغانستان کې د اوبو د کمښت ګواښ، د اوبو ناسم مدیریت او په تېرو څلورو لسیزو کې د اوبو لپاره د بنسټیز کار نشتون د دې لامل شوي، چې دا ګواښ نور هم جدي کړي. که څه هم څېړنې ښیي، چې که د اوبو د سرچینو پراختیا او مدیریت ته سمه پاملرنه وشي، د افغانستان فی کس اوبو سرچینې بسنه کولی شي؛ خو اوسمهال د اوبو د مدیریت په برخه کې روان کارونه د شته اړتیاوو او ستونزو په پرتله ډېر کم دي. د اوبو او انرژۍ وزارت چارواکي وایي، چې افغانستان د اوبو د مدیریت پنځه کلن پلان یې جوړ کړی او د ولسمشر لخوا تایید شوی هم دی؛ خو بیا هم په دې برخه کې کارونه خورا په سستۍ سره روان دي او په دې تړاو لا ډېرې فعالې ډیپلوماسۍ او جدي عملي کارونو ته اړتیا ده.

**وړاندیزونه**

له ګاونډیو هېوادونو سره د ګډو اوبو د ستونزو شتون د هېواد په داخل کې د اوبو پر مدیریت او په دغه سکټور کې پر پانګونې خورا منفي اغېزې کړې دي. په ځانګړې توګه نړیوال ډونران له ګاونډیو هېوادونو سره د شخړو په شتون کې په دغه سکټور کې پانګونه نه کوي. له همدې کبله اړتیا ده، چې د ګډو اوبو په حوزو کې له ګاونډیانو سره د اوبو د ستونزو پر هواري جدي خبرې اترې وشي او په دې برخه کې جدي ګامونه واخیستل شي.

له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د قضیې له زیات سیاسي کېدو د مخنیوي لپاره د اړوندو ارګانونو یوه ګډه کمېټه جوړه او چارې یې همغږې شي. د اوبو اړوندو ارګانونو تر منځ کمزوري همغږي هغه لامل دی، چې د اوبو د مدیریت او په تېره بیا له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د ستونزو هواری یې له ځنډ او خنډ سره مخ کړی دی. په دې تړاو اړتیا ده چې د فرامرزي اوبو کمېسیون، د ځمکو عالي شورا، د اوبو او انرژۍ وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، د کرنې او اوبو لګولو وزارت او نورو اړوندو ادارو ګډه کاري‌له جوړه او د اوبو او انرژۍ وزارت یې رهبري په غاړه واخلي.

له ایران سره د ګډو اوبو په اړه د ۱۹۷۳ کال تړون که څه هم یو معتبر او منصفانه تړون بلل کېږي، خو بیا یې هم د دواړو هېوادونو تر منځ د ګډو اوبو د وېش ستونزه نه ده هواره کړې او د پلي کېدو په برخه کې یې د دواړو لورو تر منځ همغږي په خورا ټیټه کچه کې ده، چې یو اساسي لامل یې د دغو اوبو د کچې او اندازې کولو په اړه د کره او همغږو موادو او معلوماتو نشتون دی. همدا راز له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه پاکستان سره هم د اوبو د تړون هڅې د شته وضعیت په اړه د معلوماتو د نشتون له کبله له ناکامۍ سره مخ دي. له همدې کبله جدي اړتیا ده، چې په ټولیز ډول د ټولو ګډو حوزو پر سیندونو د اوبو د اندازه کولو پرمختللي وسایل نصب او له ګاونډیو هېوادونو سره همغږې شي.

د ایران- افغانستان د اوبو تړون د پلي کېدو او ایران ته د بهېدونکو اوبو په اړه د هلمند سیند د ګډو کمیشنرانو په ګډون د تخنیکي او دقیقو څېړنو لپاره یوه ګډه کاري‌له جوړه شي او د سیاسي فشارونو پر ځای له تخنیکي لارې د هلمند سیند د اوبو قضیه هواره شي. په دې تړاو لومړی ګام دا دی، چې د هلمند سیند د اوبو د کچې په اړه د کره او باوري موادو او معلوماتو د راټولولو لپاره ګامونه پورته شي. دغه راز د هریرود- مرغاب سیند حوزې په تړاو دقیقو څېړنو ته لاره هواره شي، څو له ایران سره د دغه سیند د اوبو په تړاو هم تړون لاسلیک شي.

د کره موادو د نشتون تر څنګ بشري وړتیا او د قوي متخصصینو نشتون او په اړوندو افغان ارګانونو کې کمه وړتیا هم له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو په تړاو د خبرو اترو پر مسئله منفي اغېزې کړې دي او له کبله یې له ګاونډیو هېوادونو سره د ګډو اوبو د وېش په برخه کې پرمختګ له خنډونو سره مخ دی. دغې ستونزې د فرامرزي اوبو تر څنګ په هېواد کې دننه هم د اوبو سکټور پر وضعیت منفي سیوری غوړولی دی. له همدې کبله باید د شته متخصصینو د وړتیا لوړولو او هم د تازه متخصصینو د روزلو لپاره کار وشي او د ګډو اوبو په برخه کې تخنیکي پوهه زیاته شي.

د اوبو په برخه کې او په تېره بیا له ګاونډیو هېوادونو سره د ګډو اوبو په برخه کې څېړنې په خورا ټیټه کچه کې دي. ان د اړوندو ادارو ځینې معلومات او شمېرې له یو بل سره تضاد لري او یا هم خورا زیات توپیر لري. اړتیا ده چې په اړوندو ادارو کې شته ستونزې وڅېړل شي او د معلوماتو او څېړنو د کمښت ستونزې ته د پای ټکی کېښودل شي.

د اوبو او په تېره بیا له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو په تړاو د عامه پوهې کچه هم خورا ټیټه ده، چې پایله یې هغسې فشارونه دي چې د اوبو د مدیریت او اوبو د وېش د ستونزې له هواري سره مرسته نه کوي، بلکې په ځینو مواردو کې زیان رسوي. د عامه پوهې د کچې لوړولو ته باید په پلانونو کې پوره ځای ورکړل شي او د څېړنو، د رسنیو او مدني ټولنو، کنفرانسونو او له داسې نورو لارو عملاً په دې برخه کې کار وشي.

پای



# استرالیا باید په افغانستان کې د خپلو عسکرو د جنایت په اړه څه وکړي؟

لیکنه: ډېوه
د چین میډیا ګروپ خبریاله

په دې وروستیو ورځو کې په انټرنیټ کې یوه ویډیو او څو عکسونه خپاره شوي چې په افغانستان کې مېشتو استرالیایي عسکرو د دغه هېواد ملکي وګړي شکنجه کړي او وژلي دي. په عصري زمانه کې د استرالیا پوځ لا ډېر وحشي او غیر انساني کړنې تر سره کړې او حتی پر بې ګناه ملکي وګړو یې ډزې کړې دي. د حیرانتیا وړ خبره دا ده چې د استرالیا د دفاع وزارت هم دغه خبرونه تایید کړي او پخلی یې کړی چې د استرالیا پوځ د دوو ځوارلس کلنو هلکانو ستوني پرې کړي او جسدونه یې په کڅوړو کې اچولي او سیند ته یې غورځولي دي. په دې وخت کې د استرالیا دغه عسکر د بې ګناه افغانانو د وژلو په هکله خوشحاله وو او ویلي یې دي چې د روزنې کار یې تر سره کړ. دغه کار په نړیواله کچه د سولې مینه والو او ملکي وګړو د قهر او غوسې سبب شوی او د استرالیایي عسکرو دغه جنایتونه د نړیوالې ټولنې لخوا غندل شوي دي.

په دې وخت کې د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند جاو لي جیان په خپله ټویټر پاڼه کې د استرالیا د دغو عسکرو د جنایت په غبرګون کې د یو کارتوني انځور په خپرولو سره د دغه جنایت د غندنې اواز پورته کړ؛ خو د استرالیا صدر اعظم سکوټ موریسن پر چین غږ وکړ چې له استرالیا څخه بښنه وغواړي.

د استرالیا (ABC) نشراتي شرکت یو خبر خپور کړ چې له ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۱٦ کال پورې د استرالیا ځانګړي پوځ په افغانستان کې د بندیانو، بزګرانو او نورو ملکي وګړو د وژلو په ۲۳ پېښو کې ګډون کړی او د دغه هېواد ۳۹ ملکي وګړي یې د ستوني په پرې کولو او نورو وحشي او ظالمانه ډولونو سره وژلي دي. د یادونې وړ ده چې دغه عسکر د افغانستان د ملکي وګړو د وژلو په ترڅ کې ټول په سختو جنګونو کې نه وو، له ذهني پلوه روغ او سالم وو، د نیشې په حال کې هم نه وو او د جګړې پر نړیوالو اصولو هم پوهېدل.

په دې هکله ښايي چې نه یوازې د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند جاو لي جیان، بلکې په نړۍ کې د سولې ټول مینه وال ډېر خپه او قهر شوي وي. یو کارتوني انځور د حقیقتونو له مخې جوړ شوی، خو ولې یې د استرالیا حکومت نه شي زغملی؟ د دغو پېښو په هکله د افغانستان خلک تر ټولو ډېر د اوازونو پورته کولو حق لري، دوی څنګه فکر کوي؟

د افغانستان د کندهار د خبریالانو د مرکز رییس احمد لودین په دې اړه خپل نظر څرګند کړی او ویلي یې دي چې استرالیا غوښتي دي چې چین باید په دې اړه بښنه وغواړي، زه د دوی دا نظر او غوښتنه بې ځایه بولم. د دې پر ځای چې دوی له چین څخه د یو عادي ټویټر له امله د بښنې کولو غوښتنه کړې، استرالیا باید په افغانستان کې د تر سره شوو جنایتونو په اړه چې پلټنه یې شوې ده او تحقیق شوي دي، د هغه په اړه باید له افغانانو څخه بښنه وغواړي؛ ځکه چې دوی نه بښونکی جنایت تر سره کړی دی. په افغانستان کې له څلویښتو کلونو راهیسې جګړې روانې دي او دلته افغانان سخت ځپل شوي دي. د استرالیا عسکر چې وایي له افغانانو سره مرسته کوي او دلته راغلي او د افغانانو ژوند خوندي کوي، خو دوی دلته عام افغانان وژلي او شهیدان کړي دي. دا په دې مانا ده چې دوی د افغانانو د ژوند د ساتنې په اړه نه وو راغلي او دوی دلته له افغانانو څخه د ژوند د اخیستلو لپاره راغلي وو. په دې برخه کې د استرالیا هغه ژمنه چې له افغانانو سره یا له افغانستان سره دوستي لري، دروغ ثابته شوه او دوی دښمني تر سره کړې ده. زه له نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو څخه په دې اړه غوښتنه کوم چې دوی باید پر استرالیا باندې فشار راوړي او په دې اړه له دوی څخه وضاحت وغواړي چې دوی ولې په افغانستان کې دغه نه بښونکی جنایت تر سره کړی دی.

د افغانستان د زما راډیو عمومي مدیر او مشهور خبریال عمر په دې اړه ډېر قهر و او ویې ویل، په افغانستان کې د استرالیایي ځواکونو لخوا پر ملکیانو شوي ظلمونه په سختو ټکو غندم. دغو ځواکونو د افغانستان په اروزګان ولایت کې زموږ ډېر بې ګناه هېوادوال چې ماشومان هم پکې وو، وژلي، شکنجه کړي او یا هم په سپیانو داړلي دي. دغه ډول کړنې ښیي چې استرالیا د بشري حقونو یو نقص کوونکی هیواد دی. زه له نړیوالو بشري بنسټونو څخه غواړم چې په دې برخه کې د بې وزله افغانانو ږغ واوري. د استرالیا د دغه جنایت پر وړاندې په وروستیو کې موږ د چین له دریځ څخه هم ملاتړ کوو، چې د یوې افغان ماشومې داسې عکس یې خپور کړ، چې پکې یو استرالیایي سرتیری د ماشومې نجلۍ پر غاړې پر وینو سره چاړه تېروي. چین همېش له افغانانو سره د ښه نیت له مخې خواخوږي کړې ده.

د استرالیا حکومت او په افغانستان کې د دغه هېواد مېشت ځواکونه په دې وخت کې باید څه وکړي؟ ښايي چې ټول هوښیار کسان او د سولې مینه وال ځوابونه ولري؛ خو دغه هېواد چې ځان د بشري حقونو ساتونکی ګڼي، په دې وخت کې د چا بشري حقونو ته پاملرنه کوي؟

# د ملي مصالحې عالي شورا لومړنۍ ناسته؛

## ولسمشر غني: موږ د مذاکراتو لپاره جدي یو، طالبان دې هم اوربند ته تیار شي



د ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله عبدالله ترمنځ د هوکړې پر اساس چې کله ګډ حکومت جوړېده، نو د ملي مصالحې عالي شورا هم د دغه حکومت په ترکیب کې شامله شوه. ډاکتر عبدالله عبدالله د دې شورا رییس وټاکل شو او پرون یې خپله لومړنۍ غونډه ترسره کړه. د ملي مصالحې عالي شورا د رهبرۍ شورا غونډه تېره ورځ د ولسمشر غني به خبرو پیل شوه چې د سولې پر راوستو یې ټینګار کاوه. د شورا په افتتاحیه غونډه کې ټینګار وشو، چې د سولې په لار کې باید ټول خنډونه ختم کړل شي. ولسمشر غني بیا د اوربند غوښتنه وکړه او پر طالبانو یې غږ وکړ چې د ولس غوښتنو ته درناوی وکړي.

څو میاشتې کېږي چې د ملي مصالحې عالي شورا جوړه شوې وه، خو تېره ورځ یې لومړنۍ ناسته وه. په دې ناسته کې ولسمشر غني، د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله، پخواني ولسمشر حامد کرزي، جهادي شخصیت استاد سیاف، د کابینې غړو، د ولسي جرګې غړو او د نورو اقشارو استازو ګډون کړی و. غونډه ولسمشر غني په خپله وینا پیل کړه او له ټولو هغو کسانو یې مننه وکړه چې په دې غونډه کې یې ګډون کړی دی.

ولسمشر غني د خپلو خبرو په دوام د سولې په اړه اوسنی فرصت، سیمه‌ییزه او نړیواله اجماع او ملي یووالی خورا مهم وبلل او په وینا یې، افغان حکومت دې هر څه ته متوجه دی او هڅه کوي چې روانه جګړه ژر تر ژره ختمه شي. ولسمشر دغه راز وویل چې په دوحه کې مېشت افغان پلاوی د حکومت له بشپړ ملاتړ برخمن دی او حکومت یې پرېکړو ته درناوی لري. هغه یو ځل بیا پر طالبانو غږ وکړ چې جګړې کمې کړي، اوربند ته غاړه کېږدي او په خبره یې، حکومت په مذاکراتو کې جدي دی، نو طالبانو ته هم په کار ده چې جدیت غوره کړي، له جګړو لاس په سر شي او اوربند وکړي. د ده په خبره: ((موږ جدي یو، د خبرو لپاره ښه جدي یو او طالبانو ته هم په کار ده چې جدیت وښیي او له اوربند دې نه وېرېږي)).

ولسمشر غني همدا راز وویل چې طالبان د افغانستان د ټولنې یو واقعیت دی او افغان حکومت له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره خورا مهمې پرېکړې کړې دي، زندانیان یې خوشي کړي او په خبره یې، که اړتیا پېښه شي، نو حکومت تیار دی چې نور خنډونه هم له منځه یوسي. هغه د سولې په اړه سیمه‌ییزه اجماع هم خورا مهمه بللې او په خبره یې، افغان حکومت هڅه کوي، څو نړیوال په دې باوري کړي چې افغان جګړه یوازې د خبرو له لارې د حل وړ ده او په دې توګه به نړیواله اجماع نوره هم پیاوړې کړل شي.

له دې سره جوخت د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکتر عبدالله عبدالله هم وویل چې د دغې شورا ستره موخه د سولې راوستل دي. د ده په وینا، دی ځکه دلته دی چې غواړي افغانان د سولې هیلې ته ورسوي او دلته ۴۰کلنه جګړه له ممکنه لارو ختمه کړي. ډاکتر عبدالله عبدالله هم د سولې او روغې جوړې لپاره سیمه‌ییزه او نړیواله اجماع مهمه بللې او په خبره یې، د سیمې د هېوادونو همکاري د افغان سولې په پروسه کې خورا مهمه ده.

پخواني ولسمشر حامد کرزي هم په دې غونډه کې خبرې وکړې او په خبره یې، دوی هیله لري چې په دوحه کې مېشت مذاکراتي پلاوي ژر تر ژره یوې پایلې ته ورسېږي او په دې توګه په کور د ننه روانه جګړه د خبرو له لارې پای ته ورسوي. هغه دلته روانه جګړه پردۍ او د پردیو دسیسه بللې او په خبره یې، د دې وخت دی چې افغانان ژر تر ژره په خپلو کې سوله وکړي.

په دې غونډه کې ګڼو نورو سیاسي څېرو هم خبرې او څرګندونې لرلې او ټولو د سولې له روان بهیر ملاتړ وکړ او په دې مهمه پروسه کې یې د افغانانو پر یووالي او همغږۍ ټینګار کړی دی.

# ملګري ملتونه: د ایران له خوا د یورانیمو د غني کولو تازه هڅې د شوې هوکړې خلاف دي

د ملګرو ملتونو د اټومي انرژۍ اداره وایي چې ایران غواړي درې غنچه یې پرمختللې سنټریفیوژونه په نطنز کې تر ځمکې لاندې نصب کړي او دا له نړیوالو له قدرتونو سره د یاد هېواد له لاسلیک کړې هوکړې ښکاره سرغړونه ده.

د ملګرو ملتونو د انرژۍ ادارې په راپور کې راغلي چې په نطنز کې دا تر ځمکې لاندې اټومي بټۍ د پلازمېنې تهران په درې سوه کیلومترۍ کې موقعیت لري.

د نړۍ له قدرتونو سره د ایران د ۲۰۱۵ میلادي کال د هوکړې له مخې، ایران تر ځمکې لاندې په اټومي بټۍ کې یوازې د لومړي نسل سنټریفیوژونه نصبولای شي.

خو رویټرز اژانس ویلي چې ایران په دې وروستیو کې په نطنز کې په «ای آر- ۲ ایم» ماشینونو کې د یورانیمو غني کول پیل کړي او غواړي دوه نور غنچه یې ماشینونه نصب کړي دي. په ورته مهال ملګرو ملتونو ویلي چې د ایران له خوا دا ډول اقدامات له نړیوالو سره له شوې اټومي هوکړې ښکاره توګه سرغړونه ده.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ میلادي کال کې اعلان وکړ چې هېواد یې له ایران سره له اټومي تړون وځي او وروسته یې پر دغه هېواد نوي اقتصادي بندیزونه وضع کړل.

په ورته مهال تهران ویلي چې دا اقدامات یې د امریکا د وروستیو بندیزونو په بدل کړي دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د جمعې په ورځ د شواهدو له وړاندې کولو پرته وویل چې ایران په ډېره بې قرارۍ سره ښیي چې د مذاکراتو مېز ته راتګ غواړي چې بندیزونه ورباندې کم شي.

بلخوا د امریکا منتخب ولسمشر جو بایډن د ایران پر وړاندې د ډونالډ ټرمپ پر سیاستونو په نیوکې سره ویلي چې د ایران او امریکا ترمنځ به د مسئلو حل ستونزمن وي. بایډن په یوه مرکه کې، د ټرمپ پر بهرني سیاست چې ایران سره چلن هم پکې شامل دی، نیوکه کړې ده. بایډن تر دې وړاندې ویلي وو، که ایران د اټومي هوکړې د محدودیتونو پلي کېدو ته راوګرځي، نو دی به هم امریکا بېرته دغه تړون ته وګرځوي، خو د ایران حکومت وایي، د امریکا شرطونه نه مني. تازه د ایران پارلمان حکومت ته پر دغه هېواد د لګېدلو بندیزونو د لغوه کېدو لپاره دوې میاشتې وخت ټاکلی دی.




## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېيمه برخه
### کشمير




دغه شپږ څپرکي د هند او پاکستان تر منځ پر محوري ستونزو بحث کوي: د جمو او کشمير موضوع، په روانو چارو کې دوه اړخيزې اړيکې د کنګل حالت ته رسېدلې، دولت او دوراني د هر هېواد لپاره د روان وضعيت (status quo) د مانا په اړه خپل تفسير لري او په دې اړه د دولتونو لپاره څه شی د پام وړ دي. د يوه ګډ ډيالوګ په چوکاټ کې د سولې لپاره پر دومداره هڅو بحث؛ په دې اړه خبرې چې ISI د کشمير له يو تن پخواني ازادي غوښتونکي سره څه وکړل؛ د نرېندرا مودي د واکمنۍ پرمهال د کشميريانو نه ترلاسه کېدونکې هيلې او د فاروق عبدالله معما. دواړه پخواني چارواکي په دې باور دي چې د کشميريانو لپاره يوازېنۍ غوره لار په يو وار د بشپړ حل پر ځای د «هغه څه وکړه چې کولای يې شې» تګلاره ده.

**د صحنې انځور**

تر اته مياشتني ځنډ وروسته د ۲۰۱۷ کال په فبرورۍ کې د دوه اړخيزو خبرو اترو لړۍ يو ځل بيا په بېنکاک کې پيل شوه. موږ په دوولسم پوړ کې له خپلې خونې څخه د «چاو پرايا» سيند او د ښار په سوېل کې د اسمان څکو ودانيو زړه راښکوونکې منظره هم ننداره کوو. ترخه قهوه، جنرال او ښاغلی دولت هڅوي چې د دندو پر مهال د شويو پېښو په اړه موږ ته په زړه پورې کيسې وکړي.

### ۸
### روان وضعيت

دوراني: تر اوسه چې زما په ياد دي هند د روان وضعيت يو ځواک (status quo power) ګڼل کېږي. پاکستان ته بيا په کشمير کې د «نه خوځښت» په مانا دی. موږ هغه وخت له کشمير پرته د بل څه شي په اړه فکر نه کاوه. تاسو ښايي په دې اړه چې د پاکستان تر ولکې لاندې کشمير (POK) د هند دی، يو څه ووایاست، خو زما په اند، هر کله چې د دې اړتيا ليدل شوې چې په دې اړه خبرې وشي او حل لار را وايستل شي، هېڅ پرې غوږ نه دی ګرولی او خبره يې جدي نه ده ګڼلې. پاکستان د روان وضعيت بدلون غوښت، ځکه چې په کشمير کې له روانو چارو څخه راضي نه برېښېده. زه په ۱۹۹۸ کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د يوه ګډ ډيالوګ په ترڅ کې يوې پايلې ته ورسېدم او ياد ډيالوګ د هند-پاکستان د شخړو د مديريت يا هواري لپاره يو ډېر عالي چوکاټ و. د دې ډيالوګ فورمول ښه و، محاسبه يې عالي وه او په پايله کې د انعطاف منونکو موضوعاتو په اړه په بحث سره مو کولای شول چې د باور يو چاپېريال مو رامنځته کړی وای او بيا مو ورپسې پر ستونزمنو مسايلو لکه امنيت او کشمير بحث کولای شوای. په وروستي پړاو کې مو د تروريزم موضوع هم په بحث کې ورګډولی شوای. تر يو لړ لومړنيو هڅو وروسته دغه ګډ ډيالوګ هغه وخت اغېزناک ثابت شو چې کله ستاسو د بهرنيو چارو وزير په ۲۰۰٦ کال کې اسلام‌اباد ته راغی او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اساس يو هوکړه ليک لاسليک شو. دې هوکړه ليک لويه غوغا او انګازه خپره کړه. زه د هغو کسانو په ډله کې وم چې ماريوټ هوټل ته د پروګرام لپاره وربلل شوی وم. ما په پروګرام کې د ګډون لپاره له اروپا څخه پرواز وکړ. هيله کېده چې د کنټرول کرښې له دواړو لوريو څخه به د کشميري مشرانو په ګډون دواړه خواوې د سولې بهير پر پيل هوکړه وکړي. زموږ يو شمېر ملګري د تالار شاوخوا بهر ولاړ وو او په ټوکو يې ووېل چې بس حرکت ته چمتو دی، خو که بس چپه شي بيا به څه کېږي؟ ناڅاپه خلک راټول شول او ويې ويل هو بس حرکت ته چمتو دی. ما وويل، ګورئ دا کار يو څه ستونزمن دی، خو د پروسې د پيل لپاره يو ښه سمبوليک حرکت کېدلی شي. رښتيا هم يوازې يو سمبوليک حرکت وبرېښېد. اساسي موضوعات چې بايد په راتلونکو پړاوونو کې پرې خبرې شوې وای، پاتې شول پر ځای يې عادي موضوعات راوسپړل شول او کله چې هېڅ پرمختګ ونه شو، حتی د عادي موضوعاتو په برخه کې، نو زما انګېرنه دا وه چې هند د روان وضعيت د دوام په اړه جدي و. زما په اند هند په دې باور و، که چېرته روان وضعيت مختل شي، نو د بدلون د ډيناميکونو يا خوځښتونو کابو کول به ستونزمن وي. که وضعيت تر ټاکلي حد ښکته لور ته د پاکستان خلاف پر مخ تللی وای، نو نه يوازې پاکستان بلکې هند يې هم زيانمناوه. په ورته ډول له ټاکلي حد پورته وضعيت د هند ګټې ګواښلی شوې. دې کار کولای شول چې پاکستان لا زيات ډاډه او راضي، کشميريان لا زيات فعال او توند کړي او ښايي داسې احساس وکړي چې په نوي وضعيت کې کېدای شي يو څه ترلاسه کړي. ولو که هند له روان وضعيت څخه راضي هم نه وای، نو خامخا يې بايد د يوه لوړ او نه مهارېدونکي وضعيت له رامنځته کېدو ډډه کړې وای. هند راضي و، خو پاکستان خپلې ستونزې لرلې. هند ښه روان دی، په خپل مسير روان دی، د نړۍ ورته پام دی او له چين سره په کال کې له ۷۰ تر ۸۰ ميلياردو ډالرو پورې راکړه ورکړه لري.

**دوام لري...**

# ترکستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حميدالله حميدي




ترکستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د ۱۳۹۲ کال په وروستيو کې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ په بلخ کې ولايت کې د دوو پوهنځيو اقتصاد او حقوقو او سياسي علومو په درلودلو سره پر فعاليت پيل کړی دی.

ترکستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه تر اوسه پورې همدا دوه پوهنځي لري. د لوړو زده کړو د دې موسسې د بهرنيو اړيکو مسوول ډاکټر نجيب عسی زاده وايي، دوی غوښتل چې د موسسې په چوکاټ کې نوي پوهنځي هم ايجاد کړي او په دې برخه کې پوره تياری لري، خو دا چې د ولسمشر په امر لوړو زده کړو وزارت په خصوصي پوهنتونونو کې د نويو پوهنځيو ايجادول ځنډولي دي، نو دوی دې ته په تمه دي چې دويم ځلي اجازه ورکړي او د نويو پوهنځيو لپاره منظوري واخلي.

ښاغلی عيسی زاده وايي چې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی يې دوه ډيپارټمنټونه (اداره او ډيپلوماسي او قضا او څارنوالي) او اقتصاد پوهنځی يې هم دوه ډيپارټمنټونه (مالي امور او بانکي امور) لري. دی وايي، څلور واړه ډيپارټمنټونه يې فعال دي او د ورځې په اوږدو کې په بېلابېلو وختونو کې ورته محصلين راځي او خپلې زده کړې کوي. ډاکټر نجيب عسی زاده وايي، چې د محصلينو د لاسرسي په موخه يې د ورځې په دريو وختونو کې د هغوی لپاره د زده کړو زمينه برابره کړې ده. د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د ۱۵۰۰ په شاوخوا کې محصلين پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې ٦۰ سلنه يې نارينه او پاتې ٤۰ سلنه يې ښځينه محصلينې تشکيلوي.

له ترکستان د لوړو زده کړو موسسې څخه تر اوسه پورې د زرو په شاوخوا کې محصلين د لېسانس په کچه په څلورو دورو کې فارغ شوي دي. نوموړی وايي چې فارغ شوي محصلين يې تر ډېره خپله په بلخ ولايت او دغه راز د هېواد په نورو ولايتونو کې په بېلابېلو دولتي او غير دولتي ادارو کې پر کار بوخت دي او يا يې هم خپله د ځان لپاره کاروبارونه جوړ کړي او خلک يې ور سره پکار کړي دي. دی وايي چې تر ۱۳۹۷ کال پورې يې په کلني ډول د زرو په شاوخوا کې نوي محصلين جذبول، ځکه هغه وخت يې طب پوهنځی هم درلود چې اوسمهال د ځينو ستونزو له کبله تړل شوی دی. خو اوس چې طب پوهنځی نه لري، نو په فعالو دوو پوهنځيو کې يې د جذب کچه په کلني ډول د ۵۰۰ په شاوخوا کې ده.

ډاکټر نجيب عسی زاده وايي چې د لوړو زده کړو وزارت له مقرراتو سره سم يې د موسسې په دننه کې مجهز کتابتون جوړ کړی، چې د لسو زرو په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه يې پکې ځای پر ځای کړي دي. دی وايي چې د فعالو پوهنځيو اړوند او دغه راز زرګونه نور علمي کتابونه يې هم د محصلينو د ازادې مطالعې لپاره په خپل کتابتون کې ځای پر ځای کړي دي. دی وايي، که څه هم چې اوس هم په کتابتون کې په کافي اندازه کتابونه لري، خو هڅه يې دا ده چې کتابتون نور هم غني کړي او په يو زيات شمېر نور کتابونه هم په خپل کتابتون کې ځای پر ځای کړي. د فزيکي کتابتون تر څنګ ترکستان د لوړو زده کړو موسسه يو ډيجيټالي کتابتون هم لري، چې د نړۍ له مشهورو کتابتونونو سره وصل دی او دوی په رسمي ډول د دغو کتابتونونو غړيتوب لري.

د کتابتون تر څنګ، ترکستان د لوړو زده کړو موسسه د محصلينو لپاره مجهز کمپيوټر لب هم لري، څو محصلين وکولای شي چې په ياد کمپيوټر لب کې هم کمپيوټر زده کړي او هم يې له انټرنېټ څخه کار واخلي. د محصلينو لپاره وړيا ترانسپورت، د طب پوهنځی د محصلينو لپاره مجهز لابراتوار او د پوهنتون لپاره دايمي ودانۍ او شنه ساحه د ترکستان د لوړو زده کړو موسسې هغه امکانات دي، چې د خپلو محصلينو په واک کې يې ورکړي دي. ښاغلی عسی زاده وايي، چې دوی په پلان کې لري چې يو کلينيک هم جوړ کړي، څو د طب پوهنځي محصلين د نظري زده کړو تر څنګ په ياد کلينيک کې عملي زده کړې هم وکړي. دی وايي، هڅه يې دا ده چې په ټوله مانا د محصلينو لپاره هغه امکانات برابر کړي، چې دوی اړتيا ورته لري.

ښاغلی عسی زاده وايي چې د دې ټولو تر څنګ يې د محصلينو د ورتياوو لوړولو لپاره بېلابېلې کمېټې هم جوړې کړې دي، د بېلګې په توګه، د څېړنې کمېټه، د مشورې کمېټه، حقوقي کلينيک او داسې نور. دی وايي چې خپله په بلخ ولايت کې يې د بانکونو په ګډون له ځينو نورو ادارو سره هوکړې لاسليک کړې دي، چې له مخې يې محصلين د عملي زده کړو لپاره هلته ور استوي.

ترکستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه په کور د ننه په ځانګړې توګه په بلخ ولايت کې له ټولو خصوصي او دولتي پوهنتونونو سره ښې اړيکې لري. د دې موسسې د بهرنيو اړيکو مسوول ښاغلی ډاکټر نجيب عسی زاده وايي، چې دوی په بلخ کې د خصوصي پوهنتونونو په نوم يوه اتحاديه هم لري، چې يوازې د بلخ ولايت ۱۱ خصوصي پوهنتونونه يې غړيتوب لري. نوموړی وايي چې دوی د هېواد له نورو خصوصي او دولتي پوهنتونونو سره هم ښې اړيکې لري او هڅه يې دا ده چې له هېواده بهر هم له ځينو پوهنتونونو سره اړيکه ولري او علمي هوکړې ور سره لاسليک کړي، څو له مخې يې خپل محصلين او استادان د لا نورو لوړو زده کړو لپاره ور واستوي.

ډاکټر نجيب عسی زاده وايي چې په بلخ ولايت کې له مولانا خصوصي پوهنتون پرته تر اوسه پورې نورو پوهنتونونو ته د لوړو زده کړو وزارت لخوا ډيپلومونه نه دي ويشل شوي. دی وايي چې دوی خپلو فارغ شويو محصلينو ته يوازې د نمرو ترانسکرېپټ او يوه تصديق پاڼه ورکوي، چې محصلين کولای شي د نورو لوړو زده کړو او دندې په پيدا کولو کې ترې ګټه واخلي. ښاغلی عسی زاده وايي چې کله د لوړو زده کړو له لوري دوی ته د دولتي ډيپلومونو د وېش وار ورسېږي، نو دوی به هم خپلو محصلينو ته دغه ډيپلومونه ووېشي.

د طب پوهنځي بيا فعالول، د نويو پوهنځيو ايجادول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د ماسټرۍ پروګرام پيلول، په کور د ننه او بهر کې له معتبرو پوهنتونونو سره اړيکې جوړول او د علمي هوکړو لاسليک کول او دې ته ورته نور د ترکستان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې راتلونکي پلانونه دي.

د ترکستان د لوړو زده کړو موسسه د لوړو زده کړو له وزارت څخه کومه ګيله نه لري، خو وايي، که د لوړو زده کړو وزارت ټولو خصوصي پوهنتونونو ته د نويو پوهنځيو د ايجاد فرصت بيا ورکړي، دوی به په خپل تشکيل کې نوي او هغه پوهنځي ايجاد کړي، چې هم يې د کار مارکېټ تقاضا کوي او هم د محصلينو لپاره نوي او په زړه پورې وي.

همیانی

# گلودرد چرکی؛ علائم، درمان و عوارض آن برای بدن

ترجمه: امین همتی

گلودرد چرکی عفونت باکتریایی است که باعث می‌شود گلوی شما دردناک و متورم شود. در حقیقت باکتری استرپتوکوک نوع A باعث می‌شود به این بیماری مبتلا شوید. کودکان و بزرگسالان در هر سن‌وسالی ممکن است به این بیماری مبتلا شوند. اما گلودرد چرکی در کودکان بین ۵ تا ۱۵ سال معمول‌تر است. همچنین باید گفت که عطسه و سرفه باعث می‌شود این بیماری به افراد دیگر نیز منتقل شود. با ما باشید تا در این نوشته با علائم، راه‌های تشخیص و درمان آن آشنا شوید.

شدت گلودرد چرکی در افراد مختلف متفاوت است. برخی افراد علائم خفیفی مانند گلودرد را تجربه می‌کنند. ولی برخی دیگر علائم شدیدتری مانند تب و مشکل بلعیدن دارند. معمول‌ترین علائم گلودرد چرکی شامل این موارد می‌شوند:

تب ناگهانی، مخصوصاً تب بالای ۳۸ درجه؛

گلوی قرمز و دردناک با لکه‌های سفید؛

سردرد؛

لرز؛

کم‌اشتهایی؛

غدد لنفاوی متورم در گردن؛

مشکل در بلع.

**چه وقت باید به پزشک مراجعه کنید؟**

عفونت استرپ دلیل تمام گلودردها نیست. بیماری‌های دیگری هم هستند که می‌توانند باعث گلودرد شوند. این بیماری‌ها عبارت‌اند از:

سرماخوردگی معمولی؛

عفونت سینوسی؛

ریختن ترشحات از پشت بینی به گلو؛

رفلاکس اسید.

گلودردهایی که به‌خاطر بیماری‌های دیگر به‌وجود آمده‌اند، خودبه‌خود بعد از چند روز بهتر می‌شوند. گاهی‌اوقات حتی به درمان هم نیاز نیست.

اگر این مشکلات را داشتید، با پزشک خود تماس بگیرید:

گلودردی که بیشتر از دو روز طول کشید ه ؛

گلودردی که با لکه‌های سفید در گلو همراه است؛

لکه‌ها یا جوش‌های قرمز تیره روی لوزه‌ها یا سقف دهان؛

گلودرد به‌همراه جوش‌های صورتی سمباده‌مانندی روی پوست؛

مشکل در تنفس؛

مشکل در بلعیدن.

اگر مدت زیادی است که به گلودرد چرکی مبتلا هستید، پزشک می‌تواند گلوی شما را معاینه کند و به‌دنبال علائم تورم بگردد. دکتر احتمالاً گردن شما را هم معاینه می‌کند تا ببیند غدد لنفاوی متورم شده‌اند یا نه. او در مورد علائم دیگر هم از شما می‌پرسد و احتمالاً یک آزمایش سریع استرپ هم در مطب خود انجام دهد.

این آزمایش نشان می‌دهد که آیا گلودرد شما به‌خاطر عفونت استرپ ایجاد شده یا به‌خاطر نوع دیگری از باکتری یا میکروب است. در این آزمایش پزشک با گوش‌پاک‌کن نمونه‌ای از گلوی شما برمی‌دارد. بعد این نمونه را به آزمایشگاه می‌فرستد تا آن را برای نشانه‌های باکتری بررسی کند. نتیجه‌ی این آزمایش چند روز بعد آماده می‌شود.

**درمان گلودرد چرکی**

اگر پزشک شما تشخیص داد که گلودرد چرکی دارید، برای درمان آنتی‌بیوتیک تجویز می‌کند. این دارو از پخش شدن باکتری و عفونت جلوگیری می‌کند. چندین نوع آنتی‌بیوتیک وجود دارند، اما معمول‌ترین داروهای تجویزشده برای گلودرد چرکی پنیسیلین و آموکسی‌سیلین هستند.

باید دوره‌ی درمان با این آنتی‌بیوتیک‌ها را به پایان ببرید تا باکتری‌ها کاملاً از بین بروند. برخی افراد بعد از اینکه از نشانه‌های بیماری خلاص شدند، مصرف آنتی‌بیوتیک‌ها را قطع می‌کنند. این باعث می‌شود بیماری بازگردد. در این صورت نشانه‌های بیماری هم بازمی‌گردند.

**مراقبت در خانه**

علاوه‌بر آنتی‌بیوتیک‌ها، درمان‌های خانگی دیگری هم هستند که می‌توانید با آنها گلودرد چرکی را بهبود ببخشید. این درمان‌ها شامل این موارد می‌شوند:

نوشیدن مایعات گرم، مانند آب گرم با کمی آب‌لیمو و چای؛

نوشیدن مایعات سرد برای بی‌حس کردن گلو؛

استفاده کردن از بخور سرد؛

استفاده از مُسکن‌های معمول، مانند ایبوپروفن یا استامینوفن؛

مکیدن آب‌نبات سرد؛

اضافه کردن نصف قاشق چای‌خوری نمک به یک لیوان آب و غرغره کردن آن.

**عوارض گلودرد چرکی**

اگر گلودرد چرکی را درمان کنید، علائم آن در طول یک هفته از بین خواهند رفت. ولی اگر درمان آن را به‌تأخیر بیندازید، ممکن است دچار مشکلات جدی شوید. این مشکلات شامل این موارد می‌شوند:

عفونت گوش؛

سینوزیت؛

تب روماتیسمی؛ (تب روماتیسمی بیماری التهابی است که روی مفاصل، قلب و پوست تأثیر می‌گذارد.)

گلومرولونفریت متعاقب عفونت استرپتوکوکی؛ (این بیماری باعث تورم کلیه‌ها می‌شود.)

ماستوئیدیت؛ (این بیماری در اثر عفونت زائده‌ی ماستوئید در جمجمه ایجاد می‌شود.)

تب مخملک؛ (این بیماری وقتی اتفاق می‌افتد که سموم به‌وجودآمده توسط عفونت چرکی باعث ایجاد زائده‌ی پوستی قرمز رنگی روی بخش‌های مختلف بدن می‌شود.)

پسوریازیس خالدار؛ (بیماری که در آن جوش‌های کوچک، قرمز و قطره‌شکلی روی بدن ایجاد می‌شوند.)

آبسه دور لوزه؛ (این آبسه پر از عفونت است و پشت لوزه به‌وجود می‌آید.)

برای کاهش خطر این عوارض، اگر عفونت چرکی بعد از ۴۸ ساعت که از آنتی‌بیوتیک استفاده کردید بهتر نشد، حتماً با پزشک خود تماس بگیرید. شاید بهتر باشد از آنتی‌بیوتیک دیگری برای مبارزه با عفونت استفاده کنید.

## پاکستاني پوځ: تر راتلو دوو میاشتو به پر ډیورنډ فرضي کرښې د اغزن تار غځولو چارې بشپړې شي



د پاکستان پوځ ویلي چې په راتلونکو دوو میاشتو کې به پر ډیورنډ فرضي کرښې د ۲٦۰۰ کیلومتره اغزن تار د غځولو کارونه بشپړ شي.

د یادونې ده چې د پاکستاني حکومت له لوري پر ډیورنډ فرضي کرښې د اغزن تاز د لګولو کارونه په ۲۰۱۷ ز کال کې پیل شوي چې لګښت يې امریکا ورکوي.

د پاکستان پوځ له امریکا غږ سره پر ډیورنډ فرضي کرښې د اغزن تار د لګولو ارزیابي شریکه کړې ده چې ډېرى کارونه شوي او تر دوو میاشتو پورې به دا لړۍ بشپړه شي. د پاکستان پوځ وایي چې اغزن تار د وسله والو د تګ راتګ د مخنیوي لپاره لګوي.

د پاکستان پوځ دا کار د افغان حکومت او افغانانو له مخالفت سره سره، په یو اړخیزه توګه ترسره کوي. د پاکستان پوځ د مطبوعاتو څانګې زیاته کړې، چې د ډیورنډ فرضي کرښې په لوېدیځه برخه کې د اغزن تار د لګولو چارې ۸۳ سلنه بشپړې شوي او پاتې نورې به هم ډېرې ژر بشپړې شي.

سرچینې زیاته کړې چې په دې پروژې نږدې ۵۰۰ میلیونه امریکایي ډالره لګښت راځي. د پاکستان پوځ دغه راز ویلي چې د ډیورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې يې سلګونه نوې پوستې او نظامي تاسیسات هم جوړ کړي دي.

د پوځ د مطبوعاتو څانګې ویلي چې پر ډیورنډ فرضي کرښې د امنیتي پروژو له کبله په پاکستان کې تروریستي پېښې کمې شوي دي.

بلخوا افغان حکومت د پاکستاني پوځ د دغو اقداماتو او په تېره بیا وروستۍ ادعا په اړه چوپ دی او هېڅ غبرګون يې نه دی ښودلی، خو تر دې وړاندې يې ویلي وو چې ډیورنډ فرضي کرښې ده چې د یو ولس يې په دوو برخو وېشلې او دا ډول کړنې ورته د منلو نه دي.

## طالبان: د هوکړې پر خلاف د امریکایي ځواکونو هوايي بریدونه به وضعیت نور هم ترینګلی کړي



طالبان وايي، امریکايي ځواکونو د دوحې هوکړې خلاف د دوی پر مرکزونو هوايي بریدونه کړي دي.

د وسله والو طالبانو له لوري په خپره شوي اعلامیه کې راغلي چې د امریکا هوايي ځواکونو په نادعلي ولسوالۍ کې د دوی پر مرکزونو او د ملکي وګړو پر کورونو هوايي بریدونه کړي چې اتلس کسان پکې وژل شوي دي. طالبانو خبرداری ورکړی چې د امریکایي ځواکونو دغه ډول بریدونه به د دوی غبرګون له ځان سره ولري او د دوام په صورت کې به وضعیت لا ترینګلی کړي.

که څه هم امریکایي ځواکونو په دې اړه څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې يې ټینګار کړی و چې د تاوتریخوالي د کمولو غوښتونکي دي او په هغه صورت کې به د برید اقدام کوي، چې طالبان د دوحې هوکړې کوم مورد نقض کړي.

افغان حکومت بیا وايي چې طالبان د دوحې هوکړې ته ژمن نه دي او دا هوکړه يې په ځلونو نقض کړې ده.

بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو خبرداری ورکړی چې د تاوتریخوالي له اوج سره هممهاله روان مذاکرات بې پایلې دي. د امریکا پمپیو د افغان سولې په اړه په تازه څرګندونو کې ویلي، په افغانستان کې د تاوتریخوالي اوسنۍ کچه ورته د منلو نه ده. نوموړي ویلي، اوس په افغانستان کې تاوتریخوالی اوج ته رسېدلی، داسې مهال چې په دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ مذاکرات روان دي. د ده په خبره، په دوحه کې يې د مذاکراتو دواړو لورو ته ویلي چې تاوتریخوالی باید کم کړي؛ ځکه له جګړو سره هممهاله د سولې خبرې نتیجه نه لري. مایک پمپیو ټینګار کړی چې د تاوتریخوالي اوسنۍ کچه باید ټیټه کړل شي، مذاکراتي پلاوي دې خبرې چټکې کړي او پر اوربند دې هوکړه سره وکړي. هغه هیله څرګنده کړې چې د مذاکراتو تازه پرمختګونه په افغانستان کې د جګړو د درېدو سبب شي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٩٠ |
| € | ٩٢,١٠ |
| Rp. | ٤٨٠ |
| ₹ | ١٠٤٠ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ١٠١,٥ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر شپږمه | ٦٤۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۵ | ۱٤ | ۱۲ | ۲۱ |
| ۳ | ٤ | ٦ | ۳ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۷ | لمر ختل ۰٦:٤۵ | ماسپښين ۱۱:٤۵ | مازيګر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰٤:٤۳ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ




ملګري ملتونه: د ايران له خوا د يورانيمو د غني کولو تازه هڅې د شوې هوکړې خلاف دي ۳

## پنټاګون: ډېر ژر به له سوماليا څخه اکثریت سرتېري را وباسو



د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون وايي، چې د ولسمشر ټرمپ په لارښوونې به ژر له سومالیا نه خپل ډېری پوځیان را وباسي.
پنټګان په یوې لنډې بیانیې کې ویلي چې د ۲۰۲۱ ز کال په پیل به د سومالیا نه اکثریت امریکایي عسکر او وسایل وایستل شي. په اعلامیه کې دا نه دي ویل شوي چې څومره عسکر ایستل کیږي او څومره به یې هلته پاتې وي.
دا په داسې حال کې ده چې اوسمهال نږدې اوو سوه امریکایي پوځیان په سومالیا کې مېشت دي. دغه امریکایي ځواکونه د الشباب له وسله والې ډلې سره د جګړې لپاره د سومالیا امنیتي ځواکونه روزي او سلا مشورې ورته ورکوي.
ولسمشر ټرمپ د جمهوري ریاست له ټاکنو وروسته هڅه کوي چې په بهرنیو هېوادونو کې د امریکایي ځواکونو فعالیتونه کم او عسکر بېرته کور ته ستانه کړي او یا یې شمېر لږ کړي. ټرمپ د سومالیا تر څنګ په افغانستان او عراق کې هم د عسکرو د شمېر د کمولو امر کړی دی. نوموړی داسې مهال په سومالیا کې د امریکایي عسکرو د شمېر د کمولو خبره کوي، چې پوځي چارواکي د الشباب د وسله والې ډلې د فعالیتونو په هکله اندېښنه څرګندوي.
د امریکا د لوی درستیزانو د کمېټې مشر جنرال مارک میلي وايي: «که الشباب همداسې پرېښودل شي، هغوی کولی شي چې په سیمه کې د امریکا په ګټو او ان امریکا عملیات وکړي».

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر له ٦٦ ميليونو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ٦٦ میلیونه او ۳۵۸ زره او ۷۱ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۵۲۷ زره او ۱۴۴ کسان مړه شوي او نږدې ۴٦ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.
د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۴ میلیونه او ۷۷۵ زره او ۳۰۸ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲۸۵ زره او ٦٦۸ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ٦۰۸ زره او ۴۱۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۵۳۴ زره او ۹۵۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د دوه میلیونه او ۴۳۱ زره او ۷۳۱ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۲٦۸ زره او ۵۵۲ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
دغه راز هسپانیا، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او کولمبیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ریاست عمومی گمرکات: روند ثبت موترهای بی‌اسناد دوصد میلیون افغانی درآمد داشته‌است



ریاست عمومی گمرکات می‌گوید که روند ثبت موترهای بی‌اسناد در کشور، تاکنون دوصد میلیون افغانی درآمد داشته‌است.
این روند از اول ماه عقرب امسال آغاز شد و انتظار می‌رود که تا اخیر ماه قوس پایان یابد. ریاست عمومی گمرکات می‌گوید که برای سرعت بخشیدن به این روند، بر شمار کارمندان و امکاناتی که در این بخش به کار گرفته می‌شوند، افزوده است.
محمد خلیل صالح‌زاده، رئیس عمومی گمرکات بیان داشت: «قبلاً ظرفیت کاری گمرک کابل، روزانه پنجاه موتر بود و حالا ما این را به هفت‌صد موتر رسانده‌ایم در روز و تلاش ما و کوشش ما این است که این پروسه را به هزار و بالاتر از هزار برسانیم.» تاکنون، در حدود پانزده هزار موتر برای ثبت آماده شده‌اند و از این میان، به سه‌هزار و پنج‌صد موتر سند داده شده‌است.
محمد نعیم فرید، مدیر تعرفه و قیمت‌گذاری ریاست گمرک کابل گفت: «سیستم سنجش این روند براساس سیستم اسیکوداست که سیستم اسیکودا یک سیستم جهانی است؛ وقتی که ما قیمت موتر را داخل سیستم می‌کنیم، محصول و مالیاتش را جداگانه سنجش می‌کند.» با این‌حال، شماری از مالکان موترهای بی‌اسناد که می‌گویند پولیس موترهای آنان را ضبط کرده است، از این که اجازه نیافته‌اند موترهای‌شان را برای بررسی‌های فنی از پولیس پس بگیرند، شکایت دارند.

عزيزي بانک
Azizi Bank

## عزيزي بانک د افغان پُست شرکت سره د څانګې پرته بانکوالۍ په برخه کې هوکړه لیک لاسلیک کړ



په هغو مراسمو کې چې د یاد هوکړه لیک د لاسلیک په پار په کابل ستار هوټل کې جوړ شوي وو، د عزيزي بانک د رهبرۍ پلاوي ترڅنګ د افغان پُست شرکت رهبري پلاوي، د افغانستان بانکونو د ټولنې اجرايوي مشر، د سوداګرۍ نړيوالې خونې او نورو مشرانو او همداراز د رسنيو استازو ګډون کړی وو. د دغه هوکړه لیک پر بنسټ، عزيزي بانک د افغان پُست شرکت د څانګو له لارې خپل بانکي خدمتونه تر لرو پرتو سيمو رسوي. پيرودونکي کولی شي يادو خدمتونو ته چې د (POS) ماشينونو له لارې ترسره کيږي، په وړيا توګه لاسرسی ولري. د عزيزي بانک اجرايوي رييس ښاغلي ډاکټر محمد سالم اُميد د خپلې وينا په ترڅ کې، د څانګې پرته (BRANCHLESS) بانکوالۍ د بانکي خدمتونو په برخه ستر نوښت او لاسته راوړنه ياده کړه او په دې برخه کې د عزيزي بانک په لازياتو هڅو ټينګار وکړ. د پروګرام ويناوالو د عزيزي بانک د څانګو او انټرنټي بانکوالۍ ترڅنګ د څانګې پرته بانکوالۍ ستاينه او د ښو خدمتونو په پار مننه وکړه.

عزيزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزيزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختيا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بايومتريک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګليسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ ليدل، د صرافۍ خپلکاره ماشين څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پيسې وېستل، د مبايل شمېرې ته پيسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه يې ماشين ترلاسه کول، د مبايل شمېرې ته کرېډيټ زياتول، د بل ادواينه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه يې له ايپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازياتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړيکه ټينګه کړئ.

www.azizibank.af
1515

